مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۴/۰۴/۰۸

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۲۸۱مه برخه

## روږتی لنډی

## ۱۳مه برخه

**د پردېسی سپېره ماښامه**
**سخته روږه، زه یې په اوښکو ماتومه**

**د تلیفون شمېره دې راکړه**
**د پیشنمي په وخت دې زه را ویښومه**

**د روږې تنده تر ماښامه**
**د مینې تنده تر قیامته پورې وینه**

د دې برخې له پاره دا نوې لنډۍ راټولې شوې دي:

**روږې له ما نه ډکی جوړ کړ**
**د زړه په زور سره اوس اخلم قدمونه**

**د پردېسی سپېره ماښامه**
**سخته روږه، زه یې په اوښکو ماتومه**

**روږه په خوله چې غلی ناست وي**
**د داسې خلکو خو دې خدای ملګری شینه**

**اختر ته څو ورځې وخت پاتې**
**په زړه میراتي به د چا لارې څارینه**

**د تلیفون شمېره دې راکړه**
**د پیشنمي په وخت دې زه را ویښومه**

**په پټو سترګو پیشمنی کړې**
**د ځوانی خوب یې لکه بنګه زنګوینه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**یاره په خدای که مې هېرېږې**
**تـا یـادوم روژه پـه اوښکـو مـاتـومـه**

**په پيشړمي کې راپه‌یاد شوې**
**ډوډۍ بې خونده اوبه زهر غوندې دینه**

**د روژې تنده تر ماښامه**
**د مینې تنده تر قیامته پورې وینه**

**روزه به بیا پر وطن راسي**
**خاورو له تللي خلک بیرته نه راځینه**

**تېره روژه کې را سره وې**
**اوس مې نصیب ده چې بې تا یې تیرومه**

**مساپرۍ کې روژه راغله**
**ابۍ مې نه‌شته ما به څوک راپاڅوینه**

**ستا د دیدن ماښام ته ناست یم**
**زما روژه به تر قیامته پورې وینه**

**چې گرده مرده میاشت تېـرېـږي**
**زما جانان به روژې زیـړ ځبېښلی وینه**

**روزه بوزه ورته یو شان وي**
**خوار خلک خوار دي، همېشه یې روزه وینه**

**د بختورو به نصیب وي**
**په روژه ماتي ستا د سترگو دیدنونه**

**اختره ته به ښایسته یې**
**خو مازدیگر د روژې بیل مزه کوینه**

**روژه په خوله ورته ولاړ یم**
**که کبرجن جانان مې واخلي سلامونه**

**روژه د صبر پېژندل دي**
**زما بې صبره زړگی بیا تا یادوینه**

**روژه د صبر، صبر میاشت ده**
**د صابرانو اجر خدای پاک ورکوینه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ